# د طاهر کلاچوي په شاعرۍ کښې صوفیانه رنګ

# The mystical color in the poetry of Tahir Kulachi

Dr, Noor Muhammad (Danish Bettani) [1]

Mr, Ayat Ullah Khan (Wazir) [2]

Issn 2304-1463

**Abstract:**

Tahir Kulachi is a shining star of Pashto literature. Also known as Rehman Baba of the Southern Districts. In this a article discusses the short life of Tahir Kulachi, and its services to Pashto literature are also briefly described. By the way, Tahir Kulachi has tried to write poetry on different genres in Pashto literature, but his poems have a mystical color. That is way we have tried to bring out the mystical color in his poetry for the fans of literature.

**Key words:** Tahir Kulachi life and fun,Pashto, Literature, and mystical poetry

د شاعرۍ ماخذ ''شعر'' دے چې په معنی ده څهء څیز پېژندګلوي یا واقفیت راځي. البته اصطلاحاً شعر هغه کلام ته وائي چې د جذباتو او احساساتو تابعه وي او ضرور څهء نه څهء واقعې ته اشارت کوي چې مختلف واقعات او حادثات کېدے شي چې د سړي په زړهء اثر وکړي او د خولې نه یې خپل پخپله الفاظ جاري شي نو دغه وینا ته شعر وئیلے کېږي.

فري وېکیپېډیا د شعر تعریف په ډول راوړي:

''په مقرر وزن او بحر کښې لیکلي شوي تحریر ته شعر وئیلے کېږي- '' (1)

د مثال په توګه د طاهر یو شعر راوړم هغه وائي:

قلم ډوب د زړهء په وینو کړه طاهره
ښائسته او ښهء غزل که لیکل غواړې

هسې خو د شاعرۍ ډېر موضوعات دي چې په مخلتف دورونو کښې شاعرانو په مختلفو

---
[1].Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar.
[2].Ph.D Scholar Pashto Academy University of Peshawar.

موضوعاتو سره په پښتو ژبه کښې راوړي دي خو زهٔ دلته د پښتو شاعرۍ صوفيانه کلام وينا مخې ته راوړم هغه هم د طاهر کلاچوي په تناظر کښې.

طاهر کلاچوي د جنوبي اضلاع يو لوے شاعر تېر شوے دے مودې وشوې خو د طاهر کلاچوي په شانتې شاعر پښتو ژبې پيدا نهٔ کړو هغه ته د جنوبي اضلاع رحمان بابا وئيلے کېږي.

هر يو شاعر د تخيل نيلے په خپل رنګ کښې زغله وي د چا په فکر د جمالياتو رنګ غالب وي او څوک په عشقيه شاعرۍ کښې رنګ وي خو پښتو ژبې شاعرانو ته خدا ے هغه برخه ورکړې ده چې د يو شاعر په شاعرۍ کښې دا ټول واړه رنګونه لکه د بوډۍ ټال ښکاري.

د طاهر کلاچوي خپل نوم غلام سرور دے، په ادبي نړۍ کښې په طاهر کلاچوي مشهور دے. طاهر کلاچوي په کال نولس سوه اتلس (۱۹۱۸ء) کښې په ضلع ډېره اسماعيل خان تحصيل کلاچي کښې د حضرت فقير نور محمد سروري قادري کره زېږېدلے دے- د هغه تعلق د پښتون قبيلې ګنډاپور سره دے. د ګنډاپور قبيلې لړۍ د مشهور بزرګ حضرت سيد ګېسو دراز شاه رحمهٔ الله عليه ته رسي، چې ګمبت يې په حيدر آباد دکن (موجوده هندوستان) کښې دے-

د طاهر کلاچوي د زېږون په نېټه کښې تضاد دے، دلته چې د هغهٔ د پيداوښت کومه نېټه وړاندې کړې شوې ده دا د هغهٔ د شاعرۍ مجموعه د مينې غېږ نه ثابته ده- چا چې په دې کتاب کښې په طاهر پېژندګلوي ليکلې ده آثار نيازي ليکي:

"د طاهر نوم غلام سرور دی، تخلص يې طاهر دی او د حکمت کار کوي. دی د صوبه سرحد د ضلع ډېره اسماعيل خان تحصيل کلاچۍ کې په کال ۱۹۱۸ع کې زېدلی دی." (2)

بل اړخ ته په سبوبلي ستوري نومي کتاب کښې هم دغه نېټه ليکلې شوې ده- د طاهر کلاچوي په حوالې سره د پروفېسر قاسم محمود بنوي وينا وړاندې کوم چې هغهٔ په خپل کتاب طاهر کلاچوي فن او شخصيت کښې مخې ته راوړې ده هغه ليکي:

"د ګورنمنټ پرائمري سکول نمبر ۴ کلاچي ضلع ډېره اسماعيل خان د داخل خارج په مطابق د غلام سرور خان د زېږېدو نېټه د جنورۍ د مياشتې دربم تاريخ ، کال نولس سوه اووهٔ لس (۰۳-۰۱-۱۹۱۷) ليکل شوې ده- د نوي تحقيق له کبله دغه نېټه سمه ده- "(3)

د طاهر کلاچوي پلار يو لوي عالم او صوفي تېر شوی، چې د خپل علم په ذريعه يې په زرګونو زړونه منور کړي دي. طاهر هم ديني زده کړې له خپل پلاره څخه کړې دي. هغه درې ژبې اردو، پارسي او پښتو په رواني سره وئيلی شوې. د طاهر کلاچوي نظم او نثر دواړه د اردو او پښتو په ډېرې معياري رسالو او اخبارونو کښې وخت په وخت چاپ شوي دي.

طاهر کلاچوي ته پخپل نظميه کتاب د ''ميني غبر'' نومي کتاب باندې د رائيټر ګولډ لاهور له اړخه د اولينې درجې جائزه هم ورکړې شوې ده. او دغه کتاب يې په "ايم اې" او د "بي اې" په کورسونو کښې هم شامل دی.

د طاهر کلاچوي د ژوند وړومبنۍ برخه په پنجاب کښې تېره شوې ده. په کال نولس سوه اووه دېرش (۱۹۳۷ء) کښې بنو ته راغی او د بنو سيمه يې له معياري ادب سره اشنا کړه. له هغه نه مخکښې که په بنو کښې مېداني او اولسي شاعري ډېره وه، چې د معاش يوه ذريعه جوړه شوې وه. خو لوي الله ته دغه بې مقصده شاعري منظوره نه وه او د طاهر کلاچوي غوندې عالم او پياوړی ليکوال يې راولېږلو چې د بنو سيمه اوس هم پرې ناز کوي. د کلاچوي صاحب د بنو په شعري ادب ډېر زيات اثرات دي او دا د هغهٔ د احساناتو يو ښکاره زيار دی.

## چاپ شوي کتابونه

۱- د ميني غبر (شعري ټولګه).

۲- مضراب (شعري ټولګه).

۳- د حسن لمن (شعري ټولګه)

۴- خنده ګل (شعري ټولګه په اردو ژبه کښې).

ښاغلي اروابناد عمرداراز مروت د هغهٔ ټول کلام راغونډ کړی دی او ''د طاهر کليات'' په نوم يې په يو ځاي چاپ کړی دی. روح د يې ښاد وي. که ژوند وفا وکړه نو بل ځل به د پښتو ادب له پاره د اروابناد عمر داراز مروت خدمات مخې ته راوړو.

په هر دور کښې د پښتو شاعري د تصوف نه خالي نهٔ ده پاتې، بل د هر دور شاعرانو په شاعرۍ کښې د تصوف وينا څهٔ نه څهٔ ځاي لري. اروابناد سيد تقويم الحق کاکا خېل د رحمان بابا او وحدت الشهود د عنوان په حوالې سره چې کوم کالم ليکلی دی په هغه کښې ليکي:

''د ارزاني خويشکي نه راواخله تر حمزه بابا پورې شايد چې د پښتو ادب داسې دور تېر شوی وي چې د تصوف نه خالي وي.''(4)

دغه شانتې د طاهر کلاچوي په ډول ملنګسار او د خدای او رسول (ص) سره مينه لرونکی انسان شاعري د تصوف نه بغېر څنګه خالي پاتې کېدې شي.

يوه ورځ جبرائيل (ع) د انسان په صورت کښې د نبي کريم (ع) په خدمت کښې حاضر شو او د يو څو سوالونو ځوابونه يې وپوښتل، په هغهٔ کښې يو سوال داسې وهٔ.

"احسان څهٔ ته وايي؟ خوږ پېغمبر (ع) وفرمائيل الإحسان اَنْ تَعْبَدَ االلهَ کَاَنَّکَ تَرَاهُ، فاِنْ لَمْ تَکنْ تَرَاهُ فَاِنَّه يَرَاکَ.چې: تاسو د خدای عبادت په دې ډول وکړي چې تاسو خدای ګورئ البته که تاسو خدای نهٔ ګورئ (يعني دغه کيفيت نشئ جوړولی نو دا يقين خو بالکل پکار دی چې خدای تاسو ګوري.

" (5) د يو لوي احسان دی چې بنده يې په خپل ځان وکړي ځکه چې الله تعالی احسانکونکيو سره مينه لري.

اروانښاد طاهر کلاچوي هم خلقِ خدا ته دغه ترغيب ورکوي چې خدای او د خدای رسول (ص) په نظر کښې لوي د انسان ده خدای هيڅوک د ځانه نهٔ بيلاوي د رنګ ونسل پروا نهٔ کوي مذهب او دين په مينځ کښې نهٔ راولي. هغه د خدای او انسان مينه په دې ډول ستائي:

دا د هر يو سړي کار نهٔ دی طاهره
چې راسېږي د حالوتو بلندۍ ته

طاهره پخه او کلکه عقيده لري هغه د هر څهٔ ذمه واري په انسان وروارهِ ولې ده هغه وائي چې د خدای غېږه خو فراخه ده خو که انسان پکښې ځايول وغواړي.

دا خو ته يې چې د هر چا غېږ کښې اوسې
ګني ستا لائقه نهٔ ده د هر چا غېږ

صوفيان په خپله شاعري کښې يا په نورو تعليماتو کښې په ټولو نه زيات زور په دې راوړي چې تاسو د خدای (ج) او د هغهٔ رسول (ص) سره مينه پيدا کړې ځکه چې مينه هم يو داسې څيز دی چې عاشق د خپلې معشوقې په اطاعت يعني پيروۍ باندې مجبوره کوي او هر وخت په دې هسه

کښې وي چې داسې عمل وکړي چې خپل محبوب ترې رضا شي بس نور هیڅ نهٔ غواړي که غواړي نوتر هغه در ته راسېدل غواړي. رابعه بصري (رح) د خپل رب نه دعا غواړي:

''یاالله اگر میں جنت کی لالچ میں تیری عبادت کرتی ہوں تو تو مجھے جنت سے محروم کر
کہ جہنم میں ڈال دے اگر میں جہنم خوف سے تیری عبادت کرتی ہوں تو مجھے جہنم کا
ایندھن بنا اور اگر میں صرف تجھے پانے اور تیری رضا کیلئے تیری عبادت کرتی ہوں تو
میرے پرور دیگار میرے لئے تو ہی کافی اور سب کچھ ہے.،،(6)

ژباړه: چې اې زما ربه که زهٔ چرته عبادت د جنت غوښتلو له پاره کوم نوما ته جنت مهٔ رکوه که زهٔ خپل عبادت د جهنم له یرې کوم نو بې شک ما جهنم کښې واچوه خو که زهٔ دغه عبادت ستاسو له قربت لاره کوم نو ما دې خپل قربت نه مهٔ محرومه کوه.

دغه شانتې طاهر کلاچوي خپل کار (عبادت) تر هغه د دره رسېدل له پاره کوي او وائي:

زما کار خوستا تر دره رسېدل وو
اوس خومخته دې صنمه د ستا کار دی

د هغهٔ (ج) در ته رسېدل ګران دي یو ځل چې ښوک ورسېږي بیا هغهٔ ته نور هیڅ نهٔ وي پکار مخض د زړهٔ آسودګۍ سره یې کار وي:

آسودگی کہاں جو دل زار ساتھ ہے
مرنے کے بعد بھی یہی آزار ساتھ ہے (7)

طاهر په مجاز کښې د حقیقت لټون کوي هغه د وحدت الوجود قائیل دی په هر څهٔ کښې خدای ګوري.

په نظر کښې که ستا عیب نهٔ وي ناصحه
ښکلي مخ لره کتلو کښې عیب نشته

اکثر بلکه عموماً خلق دغه شعر په رحمان بابا پورې تړي.

په اروابناد طاهر کلاچوي د تصوف صحبت له ماشومتوب نه خور دی هغه له ماشوم وهٔ چې د پیرانو، صوفیانو او ملنګانو صحبت ورته حاصل وهٔ او دغه صحبت په سبب هغه یو نرم مزاجه، او خوش اخلاقه سړی وهٔ . خو بیا هم که هر څومره خوش اخلاقه او د تعصب نه پاک وهٔ خو د خپل دین په هکله یې د چا خبره هم نشوه برداشت کولې. هر شاه ولي الله مجدد الف ثاني لیکي:

''چې د حضرت علي (رض) سره محبت کول ځکه د دین جزو دی چې هغه (رض) په اسلام د تعصب تر حده سخت وهٔ. '' (8) نو د طاهر کلاچوي سره مینه ساتل د پښتو ادب په فریضه کښې شامل ګڼم ځکه چې د هر خوبۍ سره سره یو ملنسار او په دین کلک مئین فرده وهٔ. ځکه چې د هغهٔ د شعرونو نه هم ښکاري لکه:

هر سړی تا د دلبرۍ سندرې وائي

څوک درنه خلاص نهٔ دي د هر چا د زړهٔ درزا یې

د خدای نه د خلاصېدو یوه لار هم نشته هغهٔ (ج) انسان او پېرى د خاص مقصد له پاره پیدا کړی دی نو پکار چې د هغه مقصد درزا د انسان په زړهٔ کښې وي. طاهر د الله (ج) مینې سره د نبي پاک (ص) مینه هم فرض ګڼي لازم وملزوم یې شمېري لااله الا الله تر هغه وخت پورې کامله نهٔ ګڼي چې تر سو محمدرسول الله ورسره یو ځای نهٔ وي:

چې قرآن یې خلق بولي د کلام د پاک مولا دی

او اسلام چې ورته وایي دا پېغام د محمد دی

تر هغهٔ ایمان نیمګړی دی چې تر څو په زړهٔ کښې د توحید یره او د رسول الله (ص) مینه شامله نهٔ وي. ځکه خو طاهر نه دا ثابته ده چې قرآن مخض یو کتاب نهٔ دی بلکه ضابطه حیات دی چې دغه پېغام الله (ج) د نبي پاک (ص) په وسیله سره تر مونږه رارسېدلی دی.

طاهر په یو وخت د طریقت د دواړو سېرېو نه متاثره دی که هر څومره د وحدت الشهود د برخې غړی دی خو د ادب په ځینې ځینې ځای کښې د وحدت اوجود په پهنکو ولاړ ښکاري .دغه وینا امیر حمزه خان شنواري د طاهر ورومبني کتاب د مینې غبږ په سریزه کښې په دې ډول وړاندې کړې ده:

'' زما په خيال طاهر په بنيادي ډول غزل ګو شاعر دی او په دې ترڅ کښې ښه کامياب ښکاري، د هغه د غزل دا خصوصيت دی که د مجازي حسن ستائينه کوي که د حقيقي خو د تغزل رنګ نه بهر نهٔ ووځي او دا ډېر ګران کار دی. ،، (9)

په الفاظ يې د مجاز د حقيقت ناوې ستائله

شعر ځکه دلپسند او دلنشين او دلنواز دی

د صوفيانه شاعرۍ خصوصيت هم دا دی چې يو شاعر اکثر مجاز د حقيقت په رنګ کښې رنګ کوي او اصول هم دا دي چې حقيقت ته ختلو لپاره پوړۍ د مجاز ولاړه ده وړومبنی ګام به د مجاز په پښکي کېښوده شي او آخرنی پښکی يې بيا د حقيقت دی- پښتو ادب هم د ازله دا ښائيلي دي او بل د پښتو اد ب خو آغاز دغه شانتې شوی دی که هر څومره په پښتو ادب کښې دوه قسمه رحجانات وده لري چې يو ته رجائي او بل ته قنوطي رحجان وائي خو د يو شاعر شاعري هم د تصوف نه خالي نه ده خوا هغه که د زوړ دور ادب دی يا اوس جديد دور ادب ولې نهٔ دی هر يو شاعر د خپل کلام ابتداء د حمد او نعت نه کوي. طاهر کلاچي په شاعرۍ کښې که هر څومره عشقيه موضوعات دوام لري خو مذهبي رحجانات هم پکښې کم نهٔ دي او دغه مذهبي رحجاناتو په سبب طاهر شاعرۍ ته صوفيانه رنګ ورکړی دی. او په خپل کتاب کښې يې ځای ورکړی دی پروفېسر قاسم بنوي هم د هغه ء د اصنافو راجمع کولو په حوالې سره داسې ليکلي دي:

''طاهر په خپل کتاب کښې غزل، نظم او قطعاتو غېږ کښې هغه ټول څېزونه راجمع کړي دي چې د يواهل زبان شاعر په شاعرۍ کښې وي. په کلام کښې يې دعا ، حمد و نعت، د اهل بيتو منقبت، د تصوف چاشني، او د اصحابه کرامو صفتونه ټول راغونډ کړي دي. '' (10)

د ادب پوړۍ دا هغه پښکي دي چې د تصوف لار هواره وي ځکه خو هغه د رنګ وبو يوې داسې قافلې سره راوان دی چې هغهٔ ته په مينه کښې د خپل محبوب نه د ځان له پاره دائمي ارمان غواړي داسې غم غواړي چې د جانان په کښې راضا وي هغه چشمان غواړي چې مخض خپل جانان پرې وينې. دلته يې د نمونې د پاره د هغهٔ نظميه دعا وړاندې کوم:

چې يې حد او پايان نهٔ وي ما ته هغه ارمان راکه
نور مې هيڅه پکار نهٔ دي خوخپل غم جاودان راکه
چې ذرې کم ليده شي پکې دواړه جهانونه
دومره فراخه لمن راکه دومره ارت د امان راکه

طاهر په ظاهره ملنګ دی خو مفکوري خوبيانې يې د قلندر دي په معمولي څيز نهٔ راضا کېږي جنت غواړي خو هغه جنت چې تش چا د فکر نيلی هم په زغلولی نهٔ وي خودار دومره چې د مختاجۍ ژوند نه پناه غواړي د همت او توان غوښتلو تقاضا په داسې ډول کوي چې ځان د سپېڅلي ربّ د مينې معراج ته په رسوي. دغه خو د تصوف علامې دي هم دې ته تزکيه نفس وايي. بل د طاهر خو شخصيت داسې دی چې تقدير او تدبير د تلې په يوه پلړه کښې اچوي. د تزکيه نفس او احساس دغه پيمانه يې اثار نيازي څه په دې ډول بيان کړې ده هغه ليکي:

''د طاهر تصوف افيمي او بې حسه کونکې نه دی بلکې يو فعال او جرات پيدا کونکی تصوف دي. د طاهر تصوف اوده او بې حسه زړونه لړزوي اود علمي ژوند درس ورکونکې تصوف دی. هغه وايي چې تدبير د تقدير دويم نوم دی. '' (11)

چې شو کاميابه تدبيرونه زما
نو تقديرونو ماته خوا راکړه

هر کله چې يو انسان خپل نفس وپېژني نو هغه د معرفت په لار راون شي بل د تصوف خو منشاء هم دا ده چې د هر څهٔ نه اګاهو انسان ته د خپل نفس د پېژندګلوي ضرورت وي او د هله ممکنه ده چې کله يو صوفي د ايمان، فکر او معرفت په درجو فيضياب شي نو په انساني ژوند کښې رڼا پيدا شي او د معرفت قابله شي او د خپل حقيقي محبوب وجود ورته محسوسه شي. طاهر هم دا محسوس کړې ده ځکه خو حمزه بابا د هغهٔ په حوالې سره ليکلي دي:

''طاهر چې کله د حقيقي محبوب وجود محسوس کړي نو حېران شي چې داسې ښکلی محبوب د هر چا غېږ کې ولې دی او دا د هغه د معرفت ابتدا وي او دې ته يې فکر نهٔ وي چې نمر رڼا په هر څيز کې اغيزه کوي.'' (12)

دا خو ته یې چې د هر چا غېږ کښې اوسې
ګنې ستا لایقه نهٔ ده د هر چا غېږ

طاهر له ماشوم وهٔ چې د اهل تصوف سره یې مینه وه او د هغوي صحبت یې اختیار کړی وهٔ د و خپل ژوند زیاته برخه یې د فقیرانو او صوفیانو سره تېره کړې ده. طاهر یو ډېر نرم خوا ، فقر غالب، خوش اخلاقه او په خدای او رسول (ص) میئن سړی وهٔ د فقیر سره فقیر وهٔ او د مخوریزو سره د فقر په جامې کښې امیر وهٔ که هر څومره نرم مزاجه وهٔ خو دخدای او رسول (ص) په معاملات کښې ډېر سخت وهٔ د وحدت الوجود د فلسفې غړې وهٔ په دې عقیده کلک وهٔ چې په هر څیز الله قادر دی.

گدا سے بادشاہ بادشاہ سے فقیر
ان اللہ علی قل شئ قدیر

هغه ذات چې کله وغواړي نو څوک بادشاه کړي او څوک فقیر. بس په هر څهٔ باندې د هغهٔ قدرت دی. د هغهٔ په راضا کښې راضي کېدل دي بیا که ملنګ هم وي په خارو کښې لت پت ولې نهٔ خو خپل ځان ورته سلطان ښکاري لکه رحمان بابا چې په ښکاره خو ملنګ دی خودعوی د سلطنت کوي او دې خړې خاورو کښې دومره خوشحال دی چې دومره به یو سلطان په خپل سلطتنت کښې نهٔ وي خوشحاله:

لکه زهٔ چې یې د در په خاورو خوښ یم
خوښ به نهٔ وي سلطانان په سلطنت کښې (13)

تصوف یوه لاره ده او په دغه لاره تګ کونکیو ته صوفیان وایي ایا تصوف دغه لاره تر کوم وخت جاري ده چې یو اوږد بحث دی البته څوک هم چې په دغه لاره تګ کوي نو رهنما یې خا مخا وي.
که چا لار د عاشقۍ وي هېره کړې
زهٔ رحمان د ګمراهانو رهنما یم
طاهر کلاچي هم په دې لاره تګ کړلو له پاره خپل رهنما سلطان باهو خوابښ کړی دی او د هغهٔ په پل یې خپل پل ینښی دی: ''د طاهر کلاچوي په تصوف او فلسفې د سلطان باهو اثر دی.'' (14)

صوفيت يو انسان د الله سره عشق کولو په مقصد پوهه کړي او دا ورته وښايه چې د ژوند مقصد په خدای پاک کښې جذب کول نهٔ دي فنا کېدل نهٔ دي ځکه چې انسان د پاره خو فنا شته هم نهٔ د وجود خو نهٔ نوري دی او نهٔ خاکي بيا ولې خپل ځان جذب کړي په کار خو دا ده چې د خدايي عشق او محبت په ځان کښې جذب کړي هله به يې مقصد پوره شي:

هر گز نمیرو آنکه دلش زنده شد به عشق

ثبت است بر جریده عالم دوام ما

ژباړه: هغه کس چې زړهٔ يې په عشق سره ژوند شي هغه بالکل نهٔ مري ځکه خو په ګړده نړۍ کښې زما همېشوالی ثابت دی.

د باهو په مقابل طاهر کښې څهٔ داسې وائيلي دي:

ظاهربين ته پاڼې پاڼې ګل ليده شي

باطن بين ته هره پاڼه جهان ښکاري

طاهر ځکه خو صوفي وهٔ چې باطن بين وهٔ په دې مختصر شانتې ارټيکل کښې د طاهر په تصوف څهٔ ليکل د اردو هغه متل دی چې چاند کو چراغ دیکھانا نو ما هم نمر په ګتو پټولو کوښښ کړی دی ځکه چې په طاهر خو تر پې ابچ ډي لېواله کار ممکن دی البته دې ارټيکل نه د ضرور معلومه ده چې څوک يې لولي نو د طاهر شانتې شاعر نه به ضرور معلوم شي د هغهٔ د ژوند حال او د پښتو ادب سره د مينې اند به ورته ډېر په ښهٔ ډول څرګند شي د هغهٔ د صوفيت د رتبې پته به ورته ولګي.

راتلونکي ليکوالو نه هم د تمه کوم چې د پښتو ادب محسنين چې هېر نهٔ کړي او دا ونه شړه پاتې نهٔ شي بالکه داسې ابياري يې وشي چې څانګې يې تر لرې لرې خوارې شي او د طاهر کلاچوي باندې نور په زړهٔ سره کار وکړي او مختلف اړخونه يې وڅيړي. اختتام يې په دې شعر سره.

د ادب سينه دې ارته کړه طاهره

چې پښتو دې ورته سرته کړه طاهره

## حواله جات


01- ازاد دائرة المعارف، وېکيپېډيا

02- طاهرکلاچوي، غلام سرور، د طاهر کليات، دانش خپرندويه ټولنه، جنوري2014ء، ص:23

03- قاسم محمود بنوي، پروفېسر، طاهر کلاچوي فن او شخصيت، پښتواکېډيمي پېښور پوهنتون،2019ء، ص: 15

04- کاکا خېل،سيدتقويم الحق، رحمان بابا او وحدت الشهود، پښتو جرنال، پښتواکېډيمي پېښور پوهنتون،1989ء، ص: 39

05- بخارى، الصحيح،والاحسان و وجوب الايمان مسلم، الصحيح : 65، رقم : ولإحسان و علم اشاعة

06- مسز سونيا نعيم سروري قادري، حضرت رابعه بصري، لاهور، نومبر 2017ء

07- مير اثر، ديوان اثر، مرتبه: کامل قريشي، انجمن ترقي اردو (هند)1978ء، ص: 277

08- قاسم محمود بنوي، پروفېسر، طاهر کلاچوي فن او شخصيت، ص: 76

09- طاهرکلاچوي، غلام سرور، د طاهر کليات، ص: 40

10- قاسم محمود بنوي، پروفېسر، طاهر کلاچوي فن او شخصيت، ص:

11- طاهرکلاچوي، غلام سرور، د طاهر کليات، ص: 23

12- ايضاً، ص: 30

13- بابا، عبدارحمان، د رحمان بابا کليات، يونيورسټي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور،۲۰۱۸ء،ص:

14- قاسم محمود بنوي، پروفېسر، طاهر کلاچوي فن او شخصيت، ص: 76


## References


**01- https:// ur. M. Wikipedia.org**

**02- Tahir Kulachi, Ghulam Sarwar, Da Tahir Kulyat, Danish Khaprandoya Tolana, Jan 2014, P: 23**

**03- Qasim Mahmud Bannavi, Prof, Tahir Kulachvi fun aw shakhsiyat, Pashto academy UOP, 2019, P: 15**

04- **Kaka khel, Syed Taqveemul Haq, Rehman baba aw wehdatul shuhood, Pashto journal Pashto academy UOP, 1989, P:39**
05- **Bukhari, Alsahih, wal ihsan wa jawab aliman muslim, alsahih: 65, raqm: waihsan o ilam ishaat**
06- **Miss Sonya Naeem Sarwar Qadri, Hazrat Rabigha Basri, Lahore, number 2017**
07- **Mir asar, Dewan asar, Muratiba Kamil Qurrashi, anjaman tariqi urdu (hind),1978, P:277**
08- **Qasim Mahmud Bannavi, Prof, Tahir Kulachvi fun aw shakhsiyat, p: 76**
09- **Tahir Kulachi, Ghulam Sarwar, Da Tahir Kulyat, p: 40**
10- **Tahir Kulachi, Ghulam Sarwar, Da Tahir Kulyat, p: 120**
11- **Tahir Kulachi, Ghulam Sarwar, Da Tahir Kulyat, p: 23**
12- **Abide, P: 30**
13- **Baba, Abdur Rehman, Ad Rehman baba Kulyat, University Book Agency Khyber Bazar Peshawar, 2018, P: 362**
14- **Tahir Kulachi, Ghulam Sarwar, Da Tahir Kulyat, p: 76**